http://www.arianafghanistan.com

مصطفی پسرلی

۲۰۱۸/۱۱/۱۲

# جنګونه




نشه، نشه یم لا شراب راکوي     د نوي جنګ، نوي اسباب راکوي
د سولې رنګ پسې په سترګو ړوند شوم     چې د جنګونو نوی باب راکوي
چې د جنګونو نوی باب راکوي

لکه د کاڼي حرکت نه لرم     نور په خندا کې برکت نه لرم
لکه سپرغۍ داسې ایره ایره شوم     څه مې ګناه ده چې عذاب راکوي؟
چې د جنګونو نوی باب راکوي

ګوره په سرو وینو کې سور شومه زه     څومره بې وسه او مجبور شومه زه
د مرګ څادر دې په وطن خپور کړی     وخت مې راځي بیا به حساب راکوي
چې د جنګونو نوی باب راکوي

دلته د سر، سرونو سر خوړلی     تورو تیارو مو روڼ سحر خوړلی
ساز او سرور نه مې نور کرکه کیږي     د غم نغمو سره رباب راکوي
چې د جنګونو نوی باب راکوي